# الله تعالى مونږ د بري لپاره تياروي

## د امام انور العولقي (رحمه الله) خطبه




ژباړه: احمد یوسف مسلم

# الله تعالی مونږ د برې لپاره تیاروي

## د امام انورالعولقي (رحمه الله) خطبه

ژباړه:

احمد یوسف مسلم

**"وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ" (سورة النور:٥٥)**

ژباړه: [او وعده کړېده الله تعالی د هغه کسانو سره چې ایمان یې راوړی او عمل کوي صالح (د قران او سنت برابر) چې خامخا به دوی خلیفه ګان کړي په ځمکه کې لکه څرنګه چې خلیفه ګان کړي یې وو هغه کسان چې مخکې له دوی نه وو، او خامخا به ثابت کړي دوی لره دین د دوی هغه دین چې غوره کړی یې دی دوی لره، او خامخا به بدل ورکړي دوی لره وروسته له ویرې د دوی نه امن، عبادت به کوي دوی زما او شریك به نه نیسي ما سره هیڅ شی، او هغه چا چې کفر وکړ وروسته د دې نه پس دغه کسان همدوی فاسقان دي]

# فهرست


عنوان صفحه

د امام انورالعولقي (رحمه الله) لنډه پېژندنه ........................................................ أ

سریزه............................................................................................ ه

۱- کله چه الله د یو شي ختمولو اراده وکړي نو اسباب ورته جوړوي........................... 1

۲- د خلافت ستنېدنه او د خپل وخت نه باید شکایت ونکړو....................................8

۳- بری نژدې دی..............................................................................17

۴- تاریخ بېرته تکرارېږي.......................................................................25

۵- د دې فتنو شدت درکول..................................................................35

۶- د امت د ستونزې حل.........................................................................41

# د امام انورالعلوقي (رحمه الله) لنډه پېژندنه

امام انور العلوقی (رحمه الله) په 1971 م کال کې د امریکا د نیو مکسیکو په ښار کې په یوې مسلمانې یمني کورنۍ کې زیږېدلی دی، د ژوند لومړني اووه کاله یې په امریکا کې تېر کړېدي او بیا خپل مور او پلار سره خپل پلرني وطن یمن ته ستون شو.

هغه یو منظم ژوند درلود او په خپل مهال ویش کې یې اسلامي زده کړو ته کافي وخت ورکړی وو چې د هغې په مرستې سره یې و کولای شو چې په یمن، عربستان او امریکا کې د علماؤ نه برخمن شي.

امام انور العلوقي (رحمه الله) په 1190 م کال کې امریکا ته د خپلو عالي تحصیلاتو لپاره ستون شو او 1994 م کال کې د کولوراډو پوهنتون څخه چې د امریکا د مشهورو پوهنتونو څخه دی د لیسانس شهادت نامه ترلاسه کړه، او بیا یې په 1998 م کال کې د سان دیاګو په پوهنتون کې چې د کالیفورنیا په ښار کې دی خپلو تحصیلاتو ته ادامه ورکړه او په 2000 م کال کې یې د نومړي پوهنتون څخه د تکنالوجی تعلیم و تربیې د ماسټرۍ شهادنامه ترلاسه کړه. وروسته له هغې نه یې د دکتورا لپاره د واشنګټن په پوهنتون کې داخله وکړه، خو د 11 سپتمبر له پیښې

(ب)

وروسته چې د امریکا او امریکایانو سلوک د مسلمانو او په تېره د دیندارو ځوانانو سره ډېر زشت شو نو هغه ونشو کولای چې هلته خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي نو بېرته یمن ته ستون شو. خو په 2002 م کال کې یې و کولای شو چې د خو میاشتو لپاره امریکا ته ولاړ شي او د هغه ځای نه یو برطانوي پوهنتون کې داخله واخلي او برطانیې ته لاړ شي، خو د اقتصادي ستونزو له کبله یې ونشو کولای چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي.

امام انورالعلوقی (رحمه الله) د میلیونونو مسلمانانو په څېر امریکا ته سفر وکړ خو د هغه او نورو په منځ کې ډېر توپیر وو. په داسې حال کې چې په هغې ټولنې کې ډېرو خلکو د دین، حیا او اخلاقو د پولو نه واوختل، نو موړې نه یواځې په دین باندې منګلولې لګولې وې بلکه په امریکا کې یې ستر انقلاب پورته کړ. کله چې هغه په امریکا کې د مسلمانانو حالت ولید او ځوانان یې د اسلامي عقیدې، احکامو او اخلاقو نه ډېر لرې بیا موندل نو اراده یې وکړه چه د پوهنتون او اسلامي زده کړو په څنګ کې د ټولنې اسلامي اصلاح هم په اوږو باندې واخلې، نو د هرې مناسبې موقعې په کارولو سره یې په خواږه آواز او څرګند انداز سره په انګلیسي ژبه کې بې شماره خطبې بیان کړي دي، او د دې لپاره چې د مسجد منبر د دعوت بهترینه وسیله ده د امریکا بیلابیلو ښارونو لکه کولوراډو، کالیفورنیا، فرجینیا او واشنګټن په ډېرو مشهورو مسجدونو کې یې امامت په غاړه واخیست، لکه دارلهجره په مسجد کې چې په متحده

ایالاتو کې دوهم لوی مسجد ګڼل کیږي د سفیرانو، تاجرانو، ډاکترانو، انجینرانو او د پوهنتونو د زده کوونکو په شمول یې په زرګونو مقتدیان لرل چې هغوی یې د قرآن او سنت په رڼا کې د الله تعالی په مرستې سره د غفلت له خوب نه ویښ کړل او د الله تعالی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او دین په وړاندې مسولیتونو ته یې متوجه کړل تر څو بشریت د کفر، شرک، جهل او بد اخلاقۍ د تیارو نه وژغوري.

د امام انورالعلوقی (رحمه الله) د ژوند په تېرو شوو پاڼو کې که غور وکړو نو دې نتیجې ته به ورسیږو چې نړۍ د خپلو نعمتونو دروازې د هغه په لور پرانسیتلې وې او په دې هڅه کې وه چې هغه په خپل دام کې ایسار کړي: هغه کولای شو چې یمن ته ستون نه شي او امریکا کې خپلو زده کړو او شهادت نامو په مرستې سره د نورو خلکو په شان ځانته هوسا ژوند غوره کړي، لیکن هغه چې په دین باندې صحیح پوه شوی وو په دې عقیده باندې وو چې د مسلحانه جهاد څخه په داسې وخت کې ډډه کول چې هغه فرض عین وي د ګمراهۍ څخه پرته بل څه نشي کېدلای. دا امکان نه لري چې یو مسلمان د رسوالله (صلی الله علیه وسلم) او صحابه کرامو (رضوان الله علیهم) لاره پرېږدي او په عین وخت کې دی ریښتنی مسلمان وي او د الله تعالی رضا دې تر لاسه کړي.

امام انور العلوقی (رحمه الله) په دې عقیده وو چې علماء باید په مسلحانه جهاد او قربانۍ ورکولو کې سستي ونکړي بلکه هغوی باید نه یوازې خپلو ویناوو سره بلکه خپلو عملونو سره عوامو ته د اسلام سپیڅلی دین

و ښايي، چې هغه خپله د دې عقيدې يوه ژوندې نمونه وه او په همدې هڅو کې بوخت وو، تر دې چې د 2011 م کال د سپتمبر په دېرشم تاريخ د يوې امريکايي بې پيلوټه جاسوسې طيارې په واسطه شهيد کړای شو- انا لله و انا اليه راجعون.

د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دې ريښتيني پيرو او رباني عالم نړۍ ته ثرګنده کړله چې مجاهدين جاهله، بې فرهنګه، بې سواد او ناپوهه خلک نه دي بلکه دا ټول زشت لقبونه د مرتدو حاکمانو لخوا چې په اسلامي هيوادونو کې اقتدار لري د درباري سوء علماؤ په مرسته ورکړل شوي دي تر څو عوام وغولوي او د هغوی او مجاهدينو په منځ کې فاصله پيدا کړي، مګر اوس عوام ويښ شوي دي او د دې مرتدو حاکمانو پر ضد قيام کوي. الله تعالی د ې د دې قربانيانو ثمره ژر زرغونه کړې او مونږ ته دې قرآني نظام قايم کړي. آمين!

دا پېژندنه د **پيام عالم مجاهد امام انورالعلوقی** رحمه الله نه ژباړل شوې ده

(٥)

# سریزه

الحمد الله وحده و الصلاة و السلام على من لانبي بعده اما بعد:

الله تعالی فرمايي:«يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» [الصف:۸]

ژباړه: [اراده لري (کافران) چې ووژني نور د الله (شریعت محمدي) په خولو خپلو سره او الله تعالی پوره کوونکی د نور خپل دی (غالبوونکی د شريعت محمدي دی) که څه هم بد ګڼي دغه (پوره کيدل د دين) کافران.]

لکه څنګه چې الله تعالی په دې آيت کريمه کې فرمايلي دي چې کفار په خپلو ژبو سره د اسلامي شريعت د ختمولو هڅه کوي، دا هڅه يوائې په ژبو پورې ځانګړې نه ده بلکه په دې تکل کې بې شماره مال هم لګوي، الله تعالی فرمايي:

«إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنْفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ» [الانفال:۳۶]

ژباړه: [بيشکه هغه کسان چې کافران شوي دي لګوي مالونه خپل لپاره د دې چې منع کړي (خلک) د لارې د الله تعالی څخه، نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه بيا به شي د غه (لګول د مالونو) پر دوی باندې پښېماني، او هغه کسان چې کافران شوي دي جهنم ته شړلی کيږي.]

نو په آخر کې به غلبه د اسلام وي لکه څنګه چې الله تعالی دې دوه آيتونو کې فرمايلي دي، او برى به د هغه کسانو وي چې نن ورځ د کافرانو پر ضد يې وسلې پورته کړي دي دې لپاره چې د اسلام د مقدساتو او مسلمانو خويندو، ميندو عزتونه خوندي وساتي، که څه هم نن ورځ د بې شماره ستونزو سره مخ دي او د هرې لورې پرې د ژبو او تورو ګذارونه کيږي. او مختورن او ناکامه به هغه منافقان وي چې نن ورځ د کفارو ساز ته نڅا کوي او د شنو ډالرو په بدل کې يې خپل ايمانونه خرڅ کړي دي، که څه هم نن ورځ په موقتي توګه په مزو کې دي او د خپل لنډ فکر مطابق ځانونه بريالي ګڼي.

په پورتني دوه آيتونو کې چې الله تعالی د کافرانو کومو دوو وسيلو ته د شريعت د ختمولو لپاره اشاره کړې ده، که غور وکړو نو د هغې دواړو مجموعه نن ورځ په رسنې (ميډيا ) کې ليدل کيږي، او مونږ په يو داسې عصر کې ژوند کوو چې د نړۍ رسنی ( د اسلامي هيوادونو په شمول ) په بشپړه توګه د کفارو په واک کې دي، نو څه چې يې خوښه وي عوامو ته يې ظاهروي، تور د سپين او سپين تور ښکاره کوي، حق باطل او باطل

حق ښکاره کوي، تر دې چې اسلام کفر او کفر اسلام ښکاره کولو ناکامه کوښښ کوي، لیکن مسلمان باید هوښیار وي او د خپل عقل نه کار واخلي، او د کفارو په سازشونو باندې ونه غولېږي، او نه په هر اوربدل شوي او حتی لیدل شوي څیز باندې یقین وکړو، ځکه ډېر کله حقیقت یو څه وي او اورول او ښودل کېږي د هغه په عکس باندې - په تېره بیا د نن سبا د پرمخ تللې ټکنالوجې په مرسته خو په ډېر آسانتیا سره د رېښتوني مجاهدینو د بدنامولو د پاره ډول ډول دسیسو نه کار اخستل کېږي - او بیا الله تعالی زمونږ نه د دې پوښتنه کوي چه په هر اوربدل شوي او لیدل شوي څیز باندې مو ولې یقین کاوه؟ الله تعالی فرمايي:

«وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا» [الاسراء: ۳۶]

ژباړه: [او په هغه څه پسې مه ځه د کوم چه نه وي تا ته په هغه باندې علم. یقیناً غوږ، سترګه او زړه، هر یو د دغو به (د قیامت په ورځ) پوښتنه کیږي د هغو نه.]

نو تر څو چه مو تحقیق نه وي کړی باید په هرې اوربدل شوي خبرې او لیدل شوې پېښې باندې یقین ونکړو. الله تعالی فرمايي:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ» [الحجرات: ۶]

ژباړه: [ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړی دی! که چېرته یو فاسق تاسو ته یو خبر راوړي نو تاسو ښه تحقیق پکې وکړئ. هسې نه چه یو قوم ته په نا پوهې سره تاوان ورسوې، نو شئ به په هغه څه باندې چه کړي مو دي پښېمانه.]

نو مؤمن باید هیڅکله د داسې فاسقې میډیا په درواغو یقین ونکړي، او بیا د کفارو په خبرو خو سوال نه پیدا کېږي چې مؤمن وغولېږي. کفار خو په مجموعي لحاظ سره - که اهل کتاب وي، که مشرکین وي، که منافقین وي، که ملحدین وي او که مرتدین - ټول د مسلمانانو د بې لارې کولو په خاطر د اسلام په خلاف سازشونه کوي، نو په هغوی باندې اعتماد کول خو د سره روا نه دي. خو متأسفانه د کفارو فاسقې رسنې د خبرونو او خپرونو په اورېدلو سره سمدلاسه پرته له تحقیق او حتی پرته د یوې لحظې غور او تحلیل نه په هغه باندې یقین او د هغه تصدیق کېږي، نو د وخت غوښتنې اړ کړم چې د قرآن او سنت په رڼا کې د امام انورالعلوقي (رحمه الله) تقریر د (Allah is Preparing us for Victory) تر عنوان لاندې پښتو ژبې ته وژباړم په دې تکل چې د خپلو دښمنانو مکرونه مو پېژندلي وي او د اسلام د غلبې په خاطر قرباني ورکوونکو مجاهدینو باندې مو غلط ګمانونه نه وي کړي.

الله تعالی دې ټول مجاهدین چې د الله تعالی د رضا ، د اسلام د حفاظت او د جنت په مینه کې د دنیا نه بې نیازه قربانیانې ورکوي د هغوی قربانیانې، عبادتونه او شهادتونه قبول کړي او ګناهونه دې وبخښي.

الله تعالی دې په نړۍ کې د نبي کریم (صلى الله عليه وسلم) په منهج باندې اسلامي خلافت ژر قایم کړي، او زمونږ څخه دې په دې سپېڅلي مرام کې کار واخلي. آمین !

احمد یوسف مسلم

بسم الله الرحمن الرحيم

# الله تعالی مونږ د بري لپاره تیاروي

## ۱- کله چه الله د یو شي ختمولو اراده وکړي نو اسباب ورته جوړوي

دا عنوان د ابن اثیر (رحمه الله) د تاریخ کتاب (الکامل) نه اخستل شوی دی. کله چې الله تعالی د کوم شی د ختمولو اراده وکړي نو د هغه د خاتمې لپاره ذریعې جوړوي. چې الله تعالی د دې امت کامیابي وغواړي نو د هغې لپاره زمینه مساعدوي، نو د نننی حالاتو په لیدلو سره کامیابي محسوسیږي.

که چیرې مونږ فرض کړو چې دا قاعده صحیح ده، نو بیا به ثابتولای شو چې خاتمه نژدې ده او که نه. د بري اړوند، الله تعالی مونږ سره په قرآن کریم کې وعده کړېده او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مونږ سره په احادیثو کې وعده کړېده چې دا امت به آخر بری مومي، نو مونږ باید په دې باندې یقین ولرو. دلته یقین یوه عقیدوي مسأله ده: د یوه مسلمان په حیث مونږ باید یقین ولرو چې دا امت به بری مومي، که نه نو بیا به مو په ایمان کې مشکل وي، ځکه چې په دې باندې دلیلونه ډېر پاخه دي چې د هغه جملې نه ځینې په لاندې توګه دي.

الله تعالی فرمایي:

«وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ» (الانبياء:۱۰۵)

ژباړه: [او يقيناً ليکلي دي مونږ په زبور کې پس د ذکر نه چې بيشکه دا ځمکه به ميراث واخلي بنده ګان زما چې صالحان وي.]

نو په پاى کې به د الله تعالى پرهېزګاره بندګان ځمکه په ميراث اخلي. بر سېره پر دې الله تعالى فرمايي:

«وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ۝ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ ۝ وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ ۝» [الصافات: ۱۷۱-۱۷۳]

ژباړه: [او يقيناً مخکې شوې ده وعده زمونږ د بندګانو زمونږ ليږلى شوو سره يقيناً چې دوى سره به مرسته وکړاى شي او يقيناً چې لښکر زمونږ هم دوى غالب دى.]

نو الله تعالى د انبياء المرسلين سره وعده کړېده چې هغوى ته به برى ورکوي، همدا راز الله تعالى فرمايي:

«إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ» [الاعراف:۱۲۸]

ژباړه: [يقيناً دغه ځمکه خاص الله لره ده، وارث ګرځوي (الله) د دې (ځمکې) هغه څوک چه اراده فرمايي له بندګانو خپلو څخه، او عاقبت (ښه خاتمه) پرهېز ګارانو ته ده.]

نو په آخره کې به مؤمنان ځمکه په میراث باندې اخلي.

الله تعالی فرمایي: «يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» [التوبة: ٣٢]

ژباړه: [اراده لري (کافران) چې مړ کړي نور د الله تعالی (اسلامي شریعت) په خولو خپلو سره او انکار کوي الله تعالی لیکن دا چې پوره کړي نور خپل (غلبه ورکړي اسلامي نظام ته) که څه هم بد ګڼي دا (غلبه د اسلامي شریعت) کافران.]

اوس کافران په دې هڅه کې دي چې د الله تعالی نور [اسلام: د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) رسالت] له منځه یوسي او د اسلام د غلبې مخه ونیسي په داسې حال کې چې الله تعالی فرمایي چې دوی ناکامېدونکي دي. څومره پیسې چې کفار د اسلام پر ضد جنګ کې مصرفوي د حیرانتیا وړ ده. څومره شته چې الله تعالی دوی ته ورکړي دي او څومره منبع ګانې چې د دوی تر لاس لاندې دي هغه ټول دوی د اسلام پر ضد مبارزه کې استعمالوي.

کله کله مونږ شکایت کوو چې د نړۍ رسنۍ د دوی په کنټرول کې دي، د نړۍ اخبارونه، چینلونه د دوی په واک کې دي، حکومتونه او جنګي قواوې د دوی په اختیار کې دي، ځمکه د دوی په اختیار کې ده، دوی سره ټول شته دي او مونږ سره هیڅ موقع نشته ده چې د دوی پر ضد

وجنګېږو، نو راځئ چې تسليم شو او د بلې لارې نه کار واخلو. راځئ چې دوی سره مخامخ ونه  جنګېږو ځکه چې مونږ د دوی سره برابري نشو کولای، نو راځئ چه د دوی سره په جنګ کې د سياسيت نه کار واخلو.
ليکن الله تعالی فرمايي:

«فَسَيُنْفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ» [الانفال: ۳۶]

ژباړه: [نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه بيا به شي دغه (لګول د مالونو) پر دوی باندې پښېماني بيا به دوی مغلوب کړای شي.]

نو چې څومره دوی د اسلام پر ضد مالونه لګوي هغومره ماتې ته نژدې کېږي، نو دا زمونږ لپاره يو زېری دی چې د اسلام بری نژدې دی او د الله تعالی مدد په لاره کې دی.

اوس دوی پخپله وايي چې د افغانستان او عراق جنګونه دوی ته د ويتنام او د کوريا د جنګونو  نه ګران تمامېږي، د کوريا جنګ دوی ته تقريباً دوه سوه بيليونه ډالر تمام شو او د ويتنام جنګ ورته تقريباً څلور سوه بيليونه ډالره تمام شو په داسې حال کې چې د عراق روان جنګ ورته تقريباً اته سوه بيليونه ډالره بلکه د دې نه هم زيات تمام شو، او په کوم شکل سره چې جريان لري نو د دوی اقتصاد به ځمکې ته راغورځېږي، او دا د ذکر

شوي آيت عين مصداق دی نو دوی به همداسې پیسې مصرفوي او بیا به په آخر کې پښېمانېږي. ځکه چې دوی خپله د خپل ځان لپاره دې مصیبت ته بلنه ورکړېده ولې چې د عراق او افغانستان جنګونه په دوی باندې نه وو تحمیل شوي بلکه دوی پخپله دا جنګ انتخاب کړی نو دوی به پښېمانېږي چې ولې یې دا جنګ پیل کوو په داسې حال کې چې ټوله سرمایه به یې ختمیږي، مفلسیږي به او بیا به ماتې خوري.

کټ مټ د ابو جهل په شان چې په خپله خوښه یې بدر انتخاب کړ ځکه مسلمانان چې د کوم کاروان لپاره په سریې[1] باندې راوتلي وو هغه په امن کې وو، ابو سفیان په خط کې ابو جهل (د لښکر مشر) ته ولیکل چې مکې ته ستون شي ځکه چې کاروان په امن کې دی نو د مسلمانانو څخه ډډه کېدای شي، لیکن ابو جهل انکار وکړ او ویې ویل: «نه مونږ به ځو او ورسره به جنګ کوو، بدر ته بهٔ ځو، درې ورځې به مېله کوو، ښځې به ځانته نڅوو او شراب به څښو، او عربو ته به ښایو چې قریش نه شي ذلیلېدلای.»

نو ابو جهل پخپله وغوښتل چې جنګ ته ولاړ شي، او همدا عین څیز به نن د امریکا سره کېږي: دوی پخپله دا جنګ غوښتی دی او نتیجه یې

(1) سریه هغې وظیفې ته ویل کیږي چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) به صحابهٔ کرام ورته لیږل

مخکې د مخکې نه معلومه ده، ځکه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي چې الله تعالی فرمایي:

**«من عادی لي ولیاً فقد آذنته بالحرب» [البخاری،٦٥٠٢]**

**ژباړه: [چا چه زما کوم ولي په دښمنۍ باندې ونیوه نو هغه سره زما دجنګ اعلان دی.]**

نو د دوی پر ضد مسلمانانو نه بلکه الله تعالی د جنګ اعلان کړی دی. الله تعالی د امریکا سره د جګړې په حال کې دی، الله تعالی فرمایي:

«وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ» [النور:٥٥]

ژباړه: [او وعده کړېده الله تعالی د هغه کسانو سره چې ایمان یې راوړی له تاسو نه او عمل کوي نېک (د اسلام مطابق) چې خامخا به دوی خلیفه ګان کړي په ځمکه کې لکه څنګه چې خلیفه ګان کړې یې وو هغه کسان چې مخکې له دوی نه وو، او خامخا به دوی لره ثابت کړي دین د دوی، هغه دین چې غوره کړی یې دی دوی لره، او خامخا به بدل ورکړي دوی لره وروسته د وېرې د دوی نه امن، عبادت به کوي دوی زما (او)

شريک به نه نيسي ماسره هېڅ شی، او هغه چا چې کفر وکړ وروسته د دې نه پس دغه کسان همدوي فاسقان دي.]

نو خلافت به هغه چاته ورکول کېږي چې ايمان لري او عملونه يې صالح دي. مسلمانان اوس د وېرې په حال کې دي، نو الله تعالى مونږ سره وعده کوي چې مونږ ته به امن راکوي. الله تعالى د دې امت سره د خلافت وعده کړېده او دې امت سره يې د امن وعده کړېده او دا وعده يې کړېده چې دين به غالبېږي او شريعت به نافذ ېږي.

## ۲- د خلافت ستنیدنه او د خپل وخت نه شکایت باید ونکړو

په هغه حدیث کې چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زمونږ د تاریخ د مرحلو په باره کې ذکر کوي فرمايي:

«تكون النبوة فيكم ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج النبوة، فتكون ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون ملكا عاضا فتكون ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون ملكا جبرية فتكون ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج النبوة» ثم سكت. [رواه أحمد، ۴/۲۷۳ رقم ۴۳۸]

**ژباړه:** [په تاسې کې به نبوت وي تر څو چې د الله تعالی رضا وي، بیا به الله دا (نبوت) لرې کړي کله چې یې خوښه وي بیا به خلافت وي د نبې کریم (صلی الله علیه وسلم) په منهج باندې (خلافت راشده) تر څو پورې چې د الله تعالی رضا وي، بیا به الله تعالی دا (خلافت) لرې کړي کله چې یې خوښهٔ وي، بیا به وراثتي سلطنت (شاهي نظام) وي هغه پورې چې د الله تعالی خوښه وي، بیا به الله تعالی دا (شاهي نظام) چې کله یې خوښهٔ وي لرې کړي، بیا به اجباري حکومت (جمهوریت) وي تر څو چې د الله تعالی خوښه وي، بیا به الله تعالی دا (جمهوري نظام) لرې کړي کله چې یې خوښهٔ وي، بیا به (دوباره ) خلافت وي د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په

**منهج باندې (خلافت راشده).] بيا رسول الله** (صلی الله علیه وسلم) **خاموش شو.**

نبوت د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وفات سره ختم شو. دويمه مرحله، خلافت، د ابوبكر صديق (رضی الله عنه) څخه تر علي (رضی الله عنه) پورې وو. بيا شاهي سلطنت وو چې په هغه کې: بنو اميه، بنو عباس او خلافت عثماني شامل وو، او بيا دکتاتوري نظام چې اوس پکې مونږ ژوند کوو چې دا يو ظالمانه حکومت دی. او بيا به د دې نه وروسته خلافت راشده وي[2].

کله کله مونږ د خپل وخت په باره کې شکايت کوو چې مونږ په بدترينو شرايطو کې ژوند کوو، امت د ضعف په حالت کې دی، امت د ماتې او اختلاف په حالت کې دی، کاش چې مونږ د صحابه کرامو په وخت کې ژوند کولای يا د اسلامي قهرمانانو په دورونو کې مو ژوند کولای، ليکن مونږ بايد د خپل وخت نه شکايت ونکړو، ځکه چې:

**اول:** يو تابعي د صحابه کرامو نه پوښتنه وکړه: «کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ستاسو په منځ کې وو نو تاسې د هغه سره څنګه سلوک

---

[2] د دې خلافت نه وروسته بيا بل نظام نه راځي بلکې دنيا به ختميږي او دا د دې نه ثابتيږي چې د دې ټولو د ذکر کولو نه وروسته بيا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سکوت اختيار کړی، لکه څرنګه چې د حديث راوي حذيفه رضی الله عنه روايت کړی دی.

کاوه؟» نو یو صحابي ځواب ورکړ چې د خپل وس مطابق یې ورسره بهترین سلوک کاوه او د هغه وضاحت یې وکړ. نو هغه پوښتونکې تابعي وویل: «که چیرې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زمونږ په دور کې اوسیدلای نو مونږ به هغه په خپلو اوږو باندې ګرځاوه.» یعنې صحابه کرامو په کافي اندازه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خیال نه وو ساتلی او که چیرې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د تابعینو په دور کې اوسیده نو هغوی به یې بهتره خیال ساتلی وای. نو هغه صحابي په ځواب کې وویل: «ځوک دا نشي ویلای چې هغه به څه کړي وای که چیرې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دور کې اوسیدای. مونږ د خپلو ورونو او پلرونو سره جنګیدلو او دا آسانه کار نه وو. اوس ستاسې ورونه، پلرونه او کورنۍ مسلمانې دي نو تاسې تصور کوی چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره به مو په یو ځانګړې اندازه سره سلوک کړی وای. نو د هغه څه آرزو یا غوښتنه مه کوه چې الله تعالی درته په تقدیر کې نه وي لیکلې.»

**دویم:** مونږ باید د خپل وخت نه شکایت و نکړو بلکه د الله تعالی شکر ادا کړو، ځکه چې کچیرې مونږ د صحابه کرامو مقام ته نظر وکړو نو د هغوی مقام په امت کې تر ټولو اوچت دی، بیا په دویم قدم کې د تابعینو، او په دریم قدم کې د اتباع تابعینو. صحابه کرام ځکه د امت بهترین کسان دي چې د هغوی د راتګ نه مخکې هیڅ نه وو نو هغوی د دین بنسټ کېښود، په داسې حال کې چې د صحابه کرامو نه وروسته راتلونکو لپاره تیار جوړ

کړی تعمیر موجود وو او په هغه کې یې ترمیم وکړ، نو ځکه صحابه کرام د امت بهترین کسان دي چې د دوی مسؤلیت د ټولو نه زیات مشکل وو.

مونږ باید د خپل وخت او دور ضروریات او اولویات وپیژنو تر څو هغه ترسره کولای وشو. د مثال په توګه په کومو شیانو باندې چې تابعینو ترکیز کړی هغه مختلف دي د هغه شیانو نه چې اتباع د تابعینو پرې تأکید کړی دی.

د برسېره وضاحت لپاره که چېرې فرض کړو چې امام بخاري (رحمه الله) د خپل دور نه سل کاله وروسته زېږېدلی وای او عین خدمتونه یې کړي وای نو هغومره اوچت مقام به یې نه وای لکه څومره چې اوس د هغه کوم مقام زمونږ په منځ کې دی. که چېرې امام شافعي (رحمه الله) سل کاله وروسته راغلی وای او عین خدمتونه یې کړي وای نو هومره اوچت مقام به یې نه وو لکه څومره چې اوس زمونږ په منځ کې د هغه مقام دی. ځکه چې د هر وخت او دور ضروریات مختلف وي.

که ځیر وکړو نو د فقهې څلور امامان په عین پېړۍ کې (یو بل ته نژدي) زېږېدلی او د حدیثو شپږ امامان هماغې پېړۍ (په آخر) کې زېږېدلي دي. د دې نه ثابتېږي چې د وخت غوښتنه په یوه زمانه کې د فقهې وه او په بل دور کې د احادیثو تقاضا وه. نو که چېرې مونږ د اسلام خدمت په بهترینه بڼه کول غواړو نو باید د خپل دور غوښتنې درک کړو.

نن ورځ ليدل کېږي چې ځينې کسان په دعوت باندې ترکيز کوي او د ځينو توجه د علم په لورې ده. ليکن که مونږ د نن ورځې د حالاتو په غوښتنې باندې غور وکړو نو دې نتيجې ته به ورسېږو چې مونږ د صحابه کرامو سره په ورته حالاتو او زمانې کې اوسېږو ، ځکه چې مونږ په تېرو څوارلسو پېړيو کې اوس ټيټې ترينې درجې ته رسېدلي يو.

نو زمونږ دور چې مونږ ترېنه شکايت کوو ، د صحابه کرامو نه وروسته په ټولو ادوارو کې که عيناً نه نو ډېر زيات د صحابه کرامو د دور سره ورته دی، ځکه چه کله چه صحابه کرام راغلل نو اسلامي اقتدار وجود نه درلود او نن هم اسلامي اقتدار موجود نه دی، او دا حال په تېرو څوارلسو پېړيو کې نه وو. کله چې صحابه کرام راغلل نو د ټولو چاپېريالونو ، د هغه وخت د دوو لويو ابر قدرتونو ، د فارس او د روم د امپراطوريو په شمول د هغو پر ضد و جنګېدل، او د چاپېريال د ټولو عربو پر ضد چې ورسره مخالف وو وجنګېدل او دا هم زمونږ د ننني حالاتو سره ورته دي په داسې حال کې چې زمونږ په تاريخ کې دا حالت نه وو. زمونږ مخکني تاريخ کې اسلامي اقتدار موجود وو ، د هجرت کولو لپاره ځايونه وو ، ليکن اوس ټوله نړۍ زمونږ پر ضد د جنګ په حال کې ده، او دا د صحابه کرامو د دور سره ورته دی، او دا په دې باندې دلالت کوي چې د ننني خلکو اجر به ډېر زيات وي، لکه څنګه چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي:

«إِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامَ الصَّبْرِ، الصَّبْرُ فِيهِ مِثْلُ قَبْضٍ عَلَى الْجَمْرِ، لِلْعَامِلِ فِيهِمْ مِثْلُ أَجْرِ خَمْسِينَ رَجُلًا يَعْمَلُونَ مِثْلَ عَمَلِهِ» [أخرجه ابو داود، ٤٣٤١؛ وابن ماجه، ٤٠١٤ و صححه الألباني، ٤٩٤]

**ژباړه: [ستاسې نه وروسته به د صبر ورځې راځې (چې) په هغې ورځو کې به صبر داسې وي لکه د بَلې سکروټې د نيولو په شان. په هغه ورځو کې به د الله تعالى په احکامو باندې د عمل کوونکي اجر په هغه عمل باندې د عمل کوونکو پنځوسو کسانو سره برابر وي.] د حديث راوي (ثعلبه الخشنی** (رضي الله عنه) **و پوښتل: يا رسول الله ! د هغوی د پنځوسو کسانو اجر؟ رسول الله** (صلى الله عليه وسلم) **وفرمايل: [ستاسو د پنځوسو کسانو اجر.]**

نو د يو کس د لمانځه اجر او ثواب به د پنځوسو کسانو د لمانځه په شان وي. د يوې ورځې روژې اجر به د پنځوسو ورځو روژو د اجر په شان وي. د هر نيک عمل اجر به د هغې زمانې د ستونزو په خاطر پنځوس چنده زيات وي.

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د امت د بهترينو کسانو په باره کې چې په آخره زمانه کې به راځي فرمايلي دي:

«يَخْرُجُ مِنْ عَدَنَ أَبْيَنَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا، يَنْصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، هُمْ خَيْرُ مَنْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ» [رواه الامام احمد فِي مسنده، ١/٣٣٣؛ وطبراني فِي معجمه الكبير، ١١٠٢٩]

**ژباړه: [د عدن ابین[3] نه به دولس زره کسان راوځي چې الله تعالی او رسول الله** (صلی الله علیه وسلم) **(دین) ته به نصرت ورکوي. هغوی به زما او د هغوی په منځ کې د کسانو بهترین خلک وي.]**

نو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دور نه د هغوی تر دوره پورې په ټولو پېړیو کې به هغوی بهترین خلک وي، ځکه چې د هغوی زمانه به د صحابه کرامو د زمانې سره تر ټولو زیاته ورته وي.

نو بیا شکایت د څه شي کله چې مونږ د نېکېو د خزانو په دور کې ژوند کوو؟ کله کله داسې یو وخت راشي چې اقتصاد په تېزۍ سره پرمختګ کوي او هر څوک شتمن کېږي، او بیا داسې یو دور راشي چې د اقتصادو پرمختګ ورو شي نو خلک ارمان کوي چې د اقتصادو د پرمختګ په زمانه کې یې ژوند کولای او د هغې زمانې د خلکو په شان میلیونر شوي وای چې د اقتصادو په اوج کې اوسېدل. مونږ د نېکیو د اوج په زمانه کې اوسېږو، خو مونږ باید درک کړو چې څومره اجر مونږ ته په انتظار کې دی. کله چې د آسانتیا دور وي نو بیا د نېکېو اجر کم وي، لیکن د مشکلاتو په دور کې د نېکېو اجر زیاتېږي، نو بیا شکایت د څه شي چې مونږ په داسې بهترین دور کې اوسېږو؟

---

[3] عدن ابین په جنوبي یمن کې د یو ځای نوم دی چې نن ورځ هلته د مجاهدینو یو مشهور فعاله تحریک وجود لري.

د غیبو علم د الله تعالی سره دی خو که چیرې مونږ هغه وخت ته نژدې یو چې فرقه منصوره [4] به مهدي او عیسی علیهما السلام ته نصرت ورکوي نو بیا د نیکیو اجر بې شماره دی. مونږ باید د نندارچیانو په توګه تشه ننداره ونکړو. خلکو ځانونه میلیونران کړل او مونږ په کور کې ناست ننداري کوو. نو مونږ باید د خپل وخت او دور نه شکایت ونکړو.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

«إِنَّ اللهَ زَوَى لِي الْأَرْضَ، فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا، وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا» [رواه مسلم: ٢٨٨٩]

**ژباړه: [یقیناً الله تعالی ماته ځمکه راغونډه کړه او ما یې مشرقونه او مغربونه ولیدل او یقیناً چې زما د امت حکومت به تر هغې (حصې) پورې رسیږي کوم چې ماته راغونډه کړای شوه.]**

نو دا دین به هر براعظم، هر هیواد او هر ښار ته رسیږي. د لااله الا الله بیرغ به هر ښار ته دننه کیږي. دا دین به چیرته چې شپه او ورځ رسیږي ور

---

[4] قَالَ رَسُولُ اللهِ (صلى الله عليه وسلم): «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ حَتَّى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ» [رواه ابو داود: ٢٤٨٤]

ژباړه: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: [زما د امت نه به یوه ډله په حق باندې د جنګیدو په حال کې باقي پاتې وي تر دې پورې چې اخر به یې د مسیح الدجال پر ضد باندې جنګیږي.]

رسېږي. نو ته ای کافره او ای منافقه ! که غواړې چې پټ شې نو کومې بلې سیارې ته ولاړ شه. ستا لپاره به په دنیا کې ځای نه وي.

نو مونږ باید دا ومنو چې برې په لاره کې دی. خو سوال دا دی چې کله؟

## ۳-برى نژدې دى

فرض کوو چې برى نژدې دى او د ثابتولو لپاره يې دا قانون استعمالوو چې کله چې الله تعالى د يو څه شي د ختمولو اراده وکړي نو د هغه لپاره اسباب جوړوي. خو اول د دې ثابتولو لپاره چې آيا واقعاً الله تعالى د يو شي د ختمولو لپاره حالت برابروي د تاريخ نه يو دوه مثالونه ذکر کوو.

**لومړى مثال:** کله چې عمر (رضى الله عنه) د فارس د امپراطورۍ پر ضد د جنګ لپاره فوج ولېږه د هغه امير ابو عبيده الثقفي (رضى الله عنه) وو. هغه ډېر زړور وو خو د البحر په جنګ کې نيمايي مسلمانان په فارس کې وژل شوي وو او مسلمانان د ماتې سره مخ وو نو دا دفارس د امپراطورۍ لپاره يو زرين چانس وو او ګمان يې کاوه چې حالات د هغه په طرف باندې دي، او د مسلمانانو په لاسونو فتح شوې ځمکې به د مسلمانانو له لاسه ووځې. د التاريخ الاسلامي مصنف محمود شاکر وايي:"ليکن الله تعالى د مؤمنانو سره دى." که چېرې مؤمنان حسب ضرورت تيارى وکړي نو په يو ډول نه يو ډول سره به برى مومي، که شمېر يې لږ وي او که ډېر وي که اتومي بم ورسره وي او که نه وي، دا ظاهري وسايل اهميت نلري که چېرې ايماني لوازم موجود وي نو الله مرسته کوي ځکه چه الله تعالى فرمايي:

«إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا» [الحج:۳۸]

ژباړه: [یقیناً الله تعالی د هغو څخه دفاع کوي چې ایمان یې راوړی.]

الله تعالی د هغه چا څخه دفاع نکوي چې زیاتې وسلې لري یا شمېر یې ډېر وي بلکه د هغه چا څخه دفاع او ورسره مرسته کوي چې ایمان لري، د الله تعالی د مرستې شرط ایمان دی نو که څه هم داسې ښکارېده چې مؤمنان د ناکامۍ سره مخ دي لیکن بیا هم الله تعالی د خاتمې لپاره اسباب منځته کړل. د فارس په پایتخت کې د دوه لویو رهبرانو په منځ کې جګړه وشوه چې په نتیجه کې یې نیمایي فوج درستم سره هلاک شو او نیمایي د بل رهبر سره. نو کوم جنرال چې د مسلمانانو پر ضد د جنګ لپاره تاکل شوي وو هغه بیرته پایتخت ته راوغوښتل شو تر څو داخلي شورش چوپ کړي، د دې په نتیجه کې خلافت ته موقع برابره شوه چې د مسلمانانو د تقویې لپاره لښکرې ولیږي تر څو جګړې ته ادامه ورکړي. نو دا جګړه بالکل هماغه وخت وشوه کله چې یې ضرورت وو ځکه چې الله تعالی غوښتل چې دا ځمکه فتح شي. نو که څه هم حالات د ظاهري اسبابو په لحاظ سره د مسلمانانو پر ضد ښکارېده لیکن بیا هم الله تعالی بری مؤمنانو ته ورکړ.

هر کله چې مسلمانان د کومې ستونزې سره مخ کېږي الله تعالی یې مرسته کوي.

<u>**دویم مثال:**</u> صلاح الدین ایوبي (رحمه الله) د بیت المقدس شاو خوا کې د مسلمانانو په غونډولو باندې پیل وکړ تر څو د صلیبیانو پر ضد

وجنګېږي، د کوم شي نه چې مخکې ذېر امراء په وېره کې وو. صليبيانو ساحلي ځمکه په بشپړه توګه د بيت المقدس او د شام (سيريه، اردن، لبنان، يمن او فلسطين) مهمې سيمې قبضه کړې وې. نو صلاح الدين (رحمه الله) د تحريک پيل وکړ او صليبيانو هم دا عادي ونه ګڼله ځکه هغوي پوهېدل چې صلاح الدين (رحمه الله) يو عادي رهبر نه دی. د مسلمانانو رهبرانو صلاح الدين (رحمه الله) ته ويل چې ته ليونی شوی يې چې د روم (اروپا ) پر ضد جنګېږي. هغو ويل چې روم هغه بحر دی چې ساحل نلري، يعنې تر څو چې سترګو کې ښکاري روم دی. يا په بل عبارت دوی ويل چې روم به مونږ پسې يو سېلاب راولېږي ځکه چې اروپا زيات نفوس لرونکې او متحده ده چې د يو غېر متحد امت پر ضد به جنګېږي. ليکن صلاح الدين (رحمه الله) په الله تعالی باندې توکل درلوده نو د صليبيانو پر ضد يې جنګ پيل کړ او د فتوحاتو ابتدا يې وکړه. او د کليسا پاپ هم د څلورم صليبي جنګ د تحريک پيل وکړ او دا ترټولو لوی صليبي جنګ بلل کېده ځکه چې دا جنګ د صلاح الدين ايوبي (رحمه الله) پر ضد وو چې د دې څخه ثابتېږي چې دې جنګ ته يې څومره اهميت ورکاوه ځکه هغوی پوه وو چې رهبريت يې څوک کوي. او په همدې خاطر په مقابل کې يې کوم عام جنرال مقرر نه کړای شو، بلکه د برطانيې، فرانسې او جرمنې پادشاهانو پخپله يې رهبريت په غاړه واخيست، تر څو په خپله د لښکرو په رهبرۍ سره وجنګېږي، او ځکه چې د درې واړو

